


ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او ټـــولنيزو مسايلـــو په برخـــه کـــې

د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ابادي اوونيزه

هفته نامه آبادی

گڼـــه: ۲٦ | مسلسل نمبر: ۱۱۵

چهارشنبه، د ربيع الاخر لومړی، ۱۴۴۷هـ.ق کال


## د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د ايران د صنعت، سوداګرۍ او کانونو وزير سره وکتل



۲ صفحه

## ملي تدارکاتو کميســـيون د ۳.۸ ميلیارده افغانيو په لګښت شپږ پروژې منظورې کړې



۲مه صفحه

## د افغانســـتان اسلامي امارت اقتصادي پاليسي منظوره شوه



۲مه صفحه



# سرليکنه

په يـــوه هېواد کې د اقتصادي ودې او پراختيا له پاره دا ډېره مهمه ده چې يوه روښـــانه او هر اړخيزه اقتصادي پاليسي موجوده وي. افغانستان چې له اشغال وروسته اوسمهال د ســـياسي چارو ترڅنګ يې اقتصادي چارې هم ګړندۍ رواني کړې دي، داسې پاليسيو ته اړتيا لري چې هم د اسلامي ارزښـــتونو په نظـــر کې نيولو سره په اقتصادي برخـــو کې د هېواد واقعـــي اړتياوو ته ځواب ووايي او هم يې پر بنسټ په هېواد کې اقتصادي وده او پراختيـــا رامنځته شي. د رياســـت الـــوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کميســـيون له لوري د افغانســـتان اسلامي امارت اقتصادي پاليسي تاييد او د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی له لوري منظوره شوه.

لکه څنګه چې ټولو ته معلومه ده اقتصادي پاليسي د يـــوه هېواد د اقتصادي ثبات او پرمختګ کيلي ده. د اقتصادي پاليســـۍ پر مټ کولای شـــو په هېواد کې اقتصادي فعاليتونه همغږي، له منابعو څخه په ښـــه ډول ګټه پورته او د خصوصي ســـکتور ملاتړ وکړو. د افغانســـتان اسلامي امارت اقتصادي پاليسي موخې هم همدا دي. د دې پاليسۍ له مخې به د پانګونې د جذب لـــه پاره مناســـب چاپېريـــال رامنځته، کورني توليدات او صادرات به زيات، د کار زمينه به برابره او بې وزلي به کمه شي، دوامـــداره اقتصادي پراختيا، اقتصادي ثبات، ســـوکالي او په پـــای کې اسلامي ټولنيز عدالت به ټينګ شي.

د اسلامي امارت د اقتصادي پاليسۍ په عملي کېدو سره بـــه مونږ پـــر دې وتوانيږو چې هېـــواد ته د کورنۍ پانګونې ترڅنـــګ بهرنۍ پانګونه هم جـــذب کړو. که چېرې د پانګونې په ځانګړي ډول بهرنۍ پانګونې له پاره زمينـــه برابره شي، نو زموږ اقتصاد بـــه هرو مرو پياوړی شي. اوسمهال په افغانســـتان کې د پانګونې خصوصا بهرنـــۍ پانګونې له پـــاره زمينه برابـــره ده. هر پانګوال کولای شي له کومې ســـتونزې پرته پانګونه وکړي. تر دې مهاله په ځينو برخو کې پانګونه شوې ده چې پر مټ يې زرګونو کسانو ته د کار زمينه برابره شوې او تر څنګ يې د حکومت خزانې ته پرېمانه عوايد راځي. دغه راز به د اقتصادي پاليسۍ پرمټ په کور د ننه د توليداتو کچه لوړه او صادرات به مو زيات شي. د توليد کچه هغه وخت لوړيـــږي چې کورنی صنعت وده وکړي. د صنعت وده او پرمختګ بيا د يوه هېواد اقتصاد پياوړی کوي او کوم څه چې د صنعت په ســـکټور کې توليدېږي، په لومړي سر کې دغه توليدات په کور د ننه د خلکو اړتياوې پوره کوي او له اړتيا ها خوا بيا کولای شو، اضافي توليدات بهر ته صادر کړو. د صادراتو په زياتوالي سره سوداګري پراختيا مومي او په پايله کې يې ملي اقتصاد غښتلی کيږي. دا او دې ته ورته نورې اقتصـــادي برخې هم د اقتصادي پاليسۍ په مرسته پرمختګ کولای شي. په لنډ ډول ويلای شو چې د اقتصادي پاليسۍ جوړول څکه اړين و، چـــې له مخې يې موږ ته د اقتصـــادي پرمختګ لاره پرانيســـتل کيږي. همدارنګه د داســـې پاليسيو پر مټ کولای شـــو د اقتصادي ودې او پرمختګ په برخه کې ټاکل شويو موخو ته ورسيږو.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او تــولنیزو مسایلــــو په برخـــه کـــې
د ریاســـت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونیزه ابادي
هفته‌نامه آبادی


## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د ایران د صنعت، سوداګرۍ او کانونو وزیر سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سنبلې میاشتې په ۲۵مه نېټه په خپل کاري دفتر کې د ایـران اسلامي جمهوریت د صنعت، سوداګرۍ او کانونو له وزیر سید محمد اتابک او مل پلاوي سره وکتل. د دې لیدنې پرمهال دواړو لورو د افغانستان او ایران ترمنځ د سوداګرۍ، ترانزیټ، پانګونې، چابهار بندر او د دواړو هېوادونو تر منځ د مشترکې اقتصـادي کمېټې د کارونو د لا موثریت په اړه هر اړخیزې خبرې وکړې.



## ملي تدارکاتو کمیسیون د ۳.۸ میلیارده افغانیو په لګښت شپږ پروژې منظورې کړې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمیسیون نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سـنبلې میاشتې په ۳۰مه نېټه په مرمرینه مانۍ کې ترسره شـوه. دې غونډې ته له اجندا سره سـم ۳۰ پروژې د منظورۍ لپاره وړاندې شـوې. له بحث وروسته ۲۰ پروژې د یو لړ تعدیلونو په وړاندولو سره او د ۳.۸ میلیارد افغانیو په ارزښت شپږ پروژې منظورې شوې.

همدارنګـه د ځلورو پروژو په اړه ټاکل شـوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو له ګټونکو شرکتونو سره د پروژو د قیمتونو په اړه مذاکره ترسره او راپور یې د ملي تدارکاتو کمیسیون مشرتابه ته وړاندې کړي. په منظور شوو پروژو کې د کونړ ولایت د ۲۰۰ بستریز روغتون د ودانۍ د پاتې چارو بشپړول، په پکتیکا ولایت کې د ۶۰۰ متریک ټنه په ظرفیت د سـړې خونې جوړول، د فاریاب ولایت د میمنې ښار څخه د همدې ولایت تر فردوس ولســوالۍ پورې د ۲۵ کیلومتره ســړک جوړول او په مختلفو ولایتونو کې د برېښنا رسونې او توزیع پروژو د پاتې چارو بشپړول شامل دي. منظور شوې پروژې د افغانستان اسلامي امارت له لوري تمویلیږي.



## د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي پالیسي منظوره شوه



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرســتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخونــد په مشرۍ د اقتصادي کمېســیون له لورې د افغانســتان اسلامي امــارت اقتصادي پالــیسي تایید او د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی له لوري منظوره شوه. دغه پالــیسي (پر اسلامي اقتصادي نظام ولاړ پرمختللی او سوکاله افغانستان) لیدلوری او (د پانګونې د جذب او پراختیا لپاره د مناسب چاپېریال رامنځته کول؛ د کورنیو تولیداتو او صادراتو زیاتول؛ د اشتغال کچې لوړول او د بې‌وزلۍ کمول؛ پایداره اقتصادي پراختیا او وده؛ د اقتصادي ثبات، سوکالۍ او اسلامي تولنیز عدالت ټینګښــت) موخې لري. اقتصادي پالیسي به د هېواد د اقتصادي فعالیتونو په همغږي کولو، له منابعو څخه د غوره ګټې اخیســتنې او د خصوصي سکتور د ملاتړ په برخه کې مهم رول ولري. دغه راز د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرســتیال محترم ملا عبدالغني بــرادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمېسیون پرېکړه وکړه، چې د اورانوس د دوبو تالار او پارکېنګ شــته قراردادونه دې فسخه او یاده ساحه دې د قیمتي او نیمه قیمتي ډبرو مارکېټ ته ځانګړې شي. د خلیج د دوبو تالار او ممتاز محل د دوبو تالار دې د قراردادونو د مودې تر پای ته رسېدو وروسته د کابل ښاروالۍ له اصولو سره ســم کرنې ترسره کړي. همــدا راز د نظیف مارکېټ، علاوالدین درې لارې د تبلو ټانګ او ظاهر شاهي مارکېټ ازادې داوطلبۍ ته وړاندې شوې او اوسمهال له نویو مســتاجرینو څخه کرایه اخیســتل کېږي. دغــه پرېکړه د عالیقدر امیر المؤمنین شیخ صاحب حفظه الله تعالی له لوري تایید شوې ده



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او تولنیزو مسایلو په برخه کې

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه


# د معدني موادو د پروسس او صادراتو پالیسۍ مسوده تایید شوه



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سنبلې میاشتې په ۲۹مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته د کانونو او پټرولیم وزارت له لوري د معدني موادو د پروسس او صادراتو پالیسۍ مسوده د بحث لپاره وړاندې شوه، چې له هراړخیز بحث وروسته تایید شوه. د دې پالیسۍ موخه د ملي او نړیوالو معیارونو پر اساس د معدني موادو پروسس ته زمینه برابرول؛ په هېواد کې دننه د معدني موادو د پروسس په برخه کې د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې جذب؛ د اړوندو ادارو ترمنځ د معدني موادو د پروسس او صادراتو لپاره د ښې همغږۍ رامنځته کول؛ د سیمې او نړۍ بازارونو ته د معدني موادو د سوداګرو اسانه لاسرسی او په هېواد کې د کاري فرصتونو رامنځته کول دي. همدارنګه دې غونډې ته د هېواد په مهمو بندرونو کې د لابراتواري کمپلکس طرحې د څېړلو په موخه د ټاکل شوي کمېټې راپور هم وړاندې شو، چې له هراړخیزې ارزونې وروسته تایید شو. په دغه لابراتواري کمپلکس کې د ۹ وزارتونو او ادارو لپاره تاسیسات په نظر کې نیول شوي، چې هر لابراتوار به په ۴۰ جریبه ځمکه کې جوړ شي. د اقتصادي کمېسیون په دې غونډه کې پر یوشمېر نورو موضوعاتو هم بحث وشو، چې په اړه یې لازم تصامیم ونیول شول. یادې پرېکړې د نهایي تصمیم نیونې په موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه‌الله تعالی دفتر ته واستول شوې.

# د هوایي ډګر له څلور لارې تر ګمرک پورې د غځېدلي سړک چارې ۸۰ سلنه بشپړې شوې دي



د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت تخنیکي ټیم د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سنبلې میاشتې په ۲۶مه نېټه د هوایي ډګر له څلور لارې تر ګمرک پورې د غځېدلي سړک پروژې چارې له نږدې وڅارلې. د اقتصادي معاونیت تخنیکي ټیم د پلان او ډیزاین مطابق د کابل ښاروالۍ او قراردادي شرکت له ترسره شوو کارونو ستاینه وکړه او قراردادي شرکت ته یې سپارښتنه وکړه، څو یې پاتې چارې هم د ټولو معیارونو په پام کې نیولو سره په ټاکل شوي وخت بشپړې کړي. د قراردادي شرکت مسوولینو د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت او کابل ښاروالۍ له مسوولینو مننه وکړه، چې ستونزو او غوښتنو ته یې په وخت رسېدنه کړې ده او ډاډ یې ورکړ، چې پاتې چارې به یې په ښه کیفیت په ټاکل شوي وخت بشپړې کړي.

د هوایي ډګر له څلور لارې تر ګمرک پورې غځېدلی سړک ۲.۷ کیلومتره اوږدوالی او ۶۰ متره سور لري، چې اوسمهال یې ۸۰ سلنه چارې بشپړې شوې دي او پاتې چارې به یې هم په راتلونکو دریو میاشتو کې تکمیل شي.

دغه سړک د تګ راتګ لپاره دوه اساسي سړکونه، د سړک دواړو لورو ته پلې لارې او لښتې، پنځه ګلدانونه، ترافیکي نښې او د یو معیاري سړک ټولې برخې لري، چې د چارو په بشپړېدو سره به یې په کابل ښار کې ترافیکي ګڼه ګوڼه راکمه، له ختیځو ولایتونو څخه د هېواد شمال ته د مسافرو وړونکو او بار وړونکو موټرونو لپاره به اسانتیاوې رامنځته او ښار به معیاري بڼه غوره کړي. پر دغه سړک ټولټال ۴۰۷ میلیون افغانۍ لګښت کېږي، چې د کابل ښاروالۍ له بودیجې ورکول کېږي.

د یادونې وړ ده چې د دغه سړک چارې د تېر ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په اتمه نېټه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري پرانیستل شوې وې.

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصــادي او تــولنیزو مسایلــو په برخــه کــې
د ریاســـت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونیزه
ابادي
هفته‌نامه آبادی

# له قمبر څلورلارې تر خیرخانې کوتل د غځېدلي سړک چارې ۹۵ سلنه بشپړې شوې دي



د ریاســت‌الوزراء اقتصادي معاونیت تخنیکي ټیم د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د ســنبلې میاشتې په ۲۶مه نېټه له قمبر څلورلارې تر خیرخانې کوتل د غځېدلي ســـړک چارې له نږدې وڅارلې. د اقتصادي معاونیت تخنیکي ټیم د کابل ښــاروالۍ له لــوري د دغه پروژې د ترسره شـــوو کارونو ستاینه وکړه او دغه پروژه یې د ښاري ټرانسپورټ د تنظیم او ښاري پراختیا په برخه کې مهمه وبلله.

د کابل ښـــاروالۍ مسوولینو د اقتصادي معاونیت تخنیکي ټیم ته ډاډ ورکړ چې د دغه سړک پاتې چارې به په نږدې راتلونکي کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته به یې وسپاري.

د کابل ښاروالۍ مسوولینو وویل چې د دې پروژې له پاره دوی ته د قرارداد مطابق یو کال او اته میاشتې وخت ورکړل شــوی او د قرارداد موده لا څلور میاشتې پاتې ده.

د دوی په خبره، له پلان سره سم به په دغو څلورو میاشتو کې د پروژې ټولې چارې بشــپړې او ګټې اخیستنې ته به یې وسپاري.

له قمبر څلورلارې تر خیرخانې کوتل غځېدلی سړک ۷.۶ کیلومتره اوږدوالی او ۳۰ متره ســور لري، چې اوسمهال یې ۹۵ ســلنه چارې بشپړې شوې دي. دغه سړک د تګ راتګ لپاره دوه اساسي سړکونه، د دواړو لورو ته پلې لارې او لښــتې، ګلدانونه، ترافیکي نښې او د یو معیاري سړک ټولې برخې لري. د دغه سړک په جوړېدو سره د کابل ښار په شمالي ســیمه کې ترافیکي ګڼه ګوڼه د پام وړ راکمه شــوې، له شمالي ولایتونو څخــه د ســوداګریزو توکو باروړونکو او مســافر وړونکو موټرونو ته د پام وړ سهولتونه رامنځته شوي او ترافیکي پېښې کمې شوې دي. پر دغه ســړک ۴۵۰ میلیونه افغانۍ لګښــت راغلی چې د کابل ښاروالۍ له بودیجې ورکړل شوی دی.

د یادونې وړ ده چې د دغه سړک چارې د تېر ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په اتمه نېټه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرســتیال محترم ملا عبدالغنــي برادر اخونــد له لوري پرانیستل شوې وې.

# له هنګرا څلورلارې تر قصبې پورې غځېدلی سړک به ژر ګټې اخیستنې ته وسپارل شي



د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت تخنیکي ټیم له هنګرا څلورلارې تر قصبې پورې د غځېدلي سړک پروژې چارې له نږدې وڅارلــې. د ریاســـت‌الوزراء اقتصادي معاونیت تخنیکــي ټیم د کابل ښــاروالۍ او قــراردادي شرکت له مســوولینو مننه وکړه، چې د ټولو تخنیکي معیارونو په پام کې نیولو سره یې د دغه سړک چارې له ټاکل شوي وخت مخکې بشپړې کړې دي.

د کابل ښــاروالۍ او قراردادي شرکت مسوولینو د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت له مســـوولینو څخه له دې امله مننه وکــړه، چې له دوی څخه یې هراړخیز ملاتړ کړی او د پروژې په جریان کې یې غوښتنو او ستونزو ته په وخت رســېدنه کړې ده. د قراردادي شرکت مسوولینو وویل چې د دې پــروژې له پاره دوی ته د قرارداد مطابق یو کال او اته میاشــتې وخت ورکړل شــوی، خو د قرارداد له ټاکلې مودې وړاندې یې دغه پروژه بشپړه کړې ده.

له هنګرا څلورلارې تر قصبې پورې غځېدلی سړک ۱.۹

کیلومتره اوږدوالی او ۴۵ متره ســور لري، چې اوسمهال یې ۱۰۰ سلنه چارې بشـپړې شوې او په نږدې راتلونکي کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.
دغه ســړک د ټګ راټګ لپاره دوه اســاسي سړکونه، د سړک دواړو لورو ته پلې لارې او لښتې، ګلدانونه، ترافیکي نښــې او د یو معیاري سړک ټولې برخې لري. په دې سره په کابل ښــار کې ترافیکي ګڼــه ګونه تر ډېره بریده راټیټه شــوې او هوادوالو ته د ټګ راټګ پرمهال اسانتیاوې برابرې شوې دي. پر دغه سړک ټولټال ۱۷۷ میلیون افغانۍ لګښت راغلی چې د کابل ښاروالۍ له بودیجې ورکړل شوې دی.
د یادونې وړ ده چې د دغه سړک چارې د تېر ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په اتمه نېټه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرســتیال محترم ملا عبدالغنــي برادر اخونــد له لوري پرانیستل شوې وې.

# اخبـــار اقتصـــادی هفـــته

## وزارت زراعت: صادرات افغانستان به پاکستان به حالت عادی جریان دارد

وزارت زراعت، آبیاری و مالداری اعلام کرده است که چالش های تجاری میان افغانستان و پاکستان کاهش یافته و در حال حاضر روند صادرات به این کشور به‌گونه عادی جریان دارد. معاون این وزارت افزوده اســت که در حال حاضر از بندر تورخم، غلام‌خان و دندپتان، میوه‌های تازه و خشک افغانستان به پاکستان صادر می‌شوند. صدراعظم عثمانی، معاون وزارت زراعت، آبیاری و مالداری، گفت: «بندر تورخم باز است و پیش‌تر در بندر غلام‌خان برخی مشکلات وجود داشــت، اما دو روز می‌شود که این بندر نیز برای صادرات میوه‌های خشک و تازه ما باز شده است.» مشکلاتی مانند



مسدود شدن بنادر و تأخیر در بررسی کالاها پیش‌تر باعث می‌شد بخش قابل توجهی از میوه‌ها و محصولات زراعتی افغانستان هنگام صادرات به بازارهای پاکستان از بین برود. این چالش‌ها امسال نیز زیان‌هایی بر صادرات افغانستان وارد کرد. با این حال، شماری از تاجران بر فراهم‌ســازی تســهیلات بیشتر در بخــش ویزای تجارتــی، ترانزیت و صادرات با پاکستان تأکید دارند. تجار امید حیدری گفت: «مـا از رهبری امارت اسلامــی می‌خواهیم همان‌طور که مشکل تعرفه‌ها با پاکســتان حل شد، موافقت‌نامه‌هایی با پاکســتان امضا کنند تا در بخش صادرات ســهولت‌های بیشتری فراهم شود.» پیش‌تر رسانه‌های پاکستانی گزارش داده بودند که به دلیل چالش‌های تجارتی و ترانزیتی میان افغانســتان و پاکستان در ســال‌های اخیر، حجم تجارت ترانزیتی دو کشــور از هفت میلیارد دالر به حدود دو میلیارد دالر کاهش یافته اســت؛ موضوعی که بــرای تاجران دو طرف زیان‌های سنگینی در پی داشته است.

## په هرات کې د صادراتي اسنادو د طی مراحل کولو واحد مرکز پرانیستل شو

د هرات ولایت د سوداګرۍ خونې د صادراتي اسنادو د طی مراحل کولو واحد مرکز د هرات والي شیخ مولانا اسلام‌جار او د صنعت او ســوداګرۍ وزارت د معین مولوي احمدالله زاهد په ګډون پرانیستل شو. د پرانستې په مراسمو کې د هرات والي وویل چــې اسلامي امارت د کورنیو تولیداتو پراختیا او د صادراتــو د زیاتوالي لپاره هڅې کوي او هیله لري چې د دغه مرکز په فعالېدو سره به د هرات د صادراتو کچه نوره هم لوړه شي. همدارنګه، د صنعت او سوداګرۍ وزارت معین مولــوي احمدالله زاهــد وویل چې اسلامي امارت د صادراتو په برخه کې د ستونزو د حل لپاره کار کوي او ژمنه یې وکړه چې شته خنډونه به لرې کړي. د معلوماتو له مخې، یوازې په ۱۴۰۳ کال کې د هرات له لارې ایران، عراق، ازبیکستان، تاجکســتان، قزاقستان، ترکمنستان، هندستان او ځینو اروپایي هېوادونو ته د ۱۶۴ میلیونه ۸۲۰ زره امریکایي ډالرو په ارزښت توکي صادر شوي چې د تېر کال په پرتله ۲۹ سلنه زیاتوالی ښیي.

## د افغانســـتان صادرات د تېر په پرتله د پام وړ زیات شوي

د صنعــت او ســوداګرۍ وزارت ویانــد اخنــدزاده عبدالسلام جواد وایي، چې د افغانستان سوداګرو له ټولــو هېوادونــو سره په عــادي ډول روانــه ده او د صاداراتو پر وړاندې ستونزې هوارې شوې دي. نوموړي زیاتوي، چې د روان کال په وروســتیو شــپږ میاشــتو کــې د هېواد صـــادرات د تېر پــه پرتله لوړ شوي. ښــاغلی جواد ټینګار کوي چې په لویو لارو او بندرونو کې د ســوداګرو ستونزې حل شوې او په دې برخه کې یې ګڼې اســانتیاوې را منځته کړې دي.



# کابل ښار کې د سړکونو څلور پروژې؛ د ښاري پراختیا او اقتصادي ودې په لور مهم ګام

زاهد خان

## سریزه

په ښارونو کې د معیاري سړکونو شتون د ښاري پراختیا، اقتصادي پرمختګ او د خلکو د هوساینې لپاره اساسي اړتیا وي. کابل د هېواد پلازمېنه او د هېواد تر ټولو ډېر نفوس لرونکی ښار دی، خو د ترافیکي ګڼې ګوڼې له لویو ستونزو سره مخ دی. کابل ښار د پراختیا او سړکونو د جوړولو پخوانی ماستر پلان درلود، خو د تطبیق په وړاندې یې ډېر خنډونه موجود و. د زورواکو له لوري لارې بندې شوې وې او کورونه او مارکیټونه په کې اباد شوي وو، خو د افغانستان اسلامي امارت له راتګ وروسته د ماستر پلان د تطبیق مرحله پیل شوه، څو له یوې خوا د کابل ښاریان له ترافیکي ستونزو خلاص او ښاري پراختیا رامنځته شي او له بلې خوا اقتصادي وده پراختیا ومومي. د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د کابل ښاروالۍ د ښاري پراختیا یوشمېر پروژې منظور کړې وې. ځینې پروژې بشپړې شوې او ځینې نورې د پلې کېدو په حال کې دي. بشپړو شویو پروژو د کابل ښار په ترافیکي جریان کې ستر بدلونونه راوستي دي. د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د کابل ښاروالۍ د پروژو د څارنې له پاره یو تخنیکي ټیم ګومارلی او خپل راپور یې د رسنیو له لارې له هېوادوالو سره شریک کړی دی.

## له قمبر څلور لارې تر خیرخانې کوتل پورې د سړک پروژه

له قمبر څلور لارې تر خیرخانې کوتل پورې د ۷.٦ کیلومتره اوږد او ۳۰ متره سور لرونکي سړک پروژه د کابل ښار یوه مهمه پروژه ده. د دې پروژې ۹۵ سلنه چارې بشپړې شوې او تمه ده په نږدې راتلونکي کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. دغه سړک د هېواد شمالي ولایتونه له پلازمېنې کابل او د هېواد له جنوب سره نښلوي. دغه سړک کې د هېوادوالو د تګ راتګ له پاره پلې لارې، لښتي، ګلدانونه او ترافیکي نښې په پام کې نیول شوې دي.

د خیرخانې کوتل سړک د کابل او شمالي ولایتونو ترمنځ د تګ راتګ مهمه لاره ده، خو په تېر کې د دغه سړک ډېره ځمکه د زورواکو له لوري غصب شوې وه، چې هېوادوالو او مسافرو ته یې په تګ راتګ کې ډېرې ستونزې ایجاد کړې وې. د سړک د تنګوالي له امله به د موټرو ډېره ګڼه ګوڼه جوړېده چې هېوادوالو به د څو دقیقو لاره په څو ساعتونو کې وهله.

د پروژې په بشپړېدو سره به په سرای شمالي سیمه کې د سوداګریزو او مسافر وړونکو موټرو بهیر چټک شي او هېوادوالو ته به ډېرې اسانتیاوې رامنځته شي.

پر دې پروژې شاوخوا ۴۵۰ میلیونه افغانۍ لګښت راځي، چې د کابل ښاروالۍ له بودیجې تمویلیږي.

## د خیرخانې کوتل سړک دویم لاټ پروژه

د خیرخانې کوتل سړک د دویم لاټ پروژه ۲.۵ کیلومتره اوږدوالی او ٦۰ متره سور لري، چې اوسمهال یې ٦۲ سلنه چارې بشپړې شوې دي. د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت تخنیکي ټیم د دې پروژې له نږدې څارنه وکړه او قراردادي شرکت ته یې سپارښتنه وکړه چې د تخنیکي معیارونو، کیفیت او شفافیت په رعایتولو سره یې په ټاکل شوي وخت کې کار بشپړ کړي.

دغه سړک د هېواد شمالي ولایتونه له کابل سره نښلوي او د اساسي سړک ترڅنګ دواړو لورو ته پلې لارې، لښتي، ګلدانونه او ترافیکي نښې لري. د پروژې په بشپړېدو سره به په کابل ښار کې د ترافیکي ګڼې ګوڼې کچه ښکته او ښاري ترانسپورټ به معیاري شي. د دې پروژې ټولټال لګښت ۳۹۱ میلیونه افغانۍ دی.

## د هوایي ډګر له څلور لارې تر ګمرک پورې د سړک پروژه

دغه پروژه چې ۲.۷ کیلومتره اوږدوالی او ٦۰ متره سور لري، د کابل ښار د ختیځ او شمال تر منځ د نښلېدو مهمه پروژه ده. د دې پروژې ۸۰ سلنه چارې بشپړې شوې او ټاکل شوې چې په راتلونکو درېیو میاشتو کې به یې پاتې چارې پای ته ورسېږي.

په دې پروژه کې هم د معیاري سړک ټولې برخې لکه دوه اساسي لاینونه، پلې لارې، لښتي، ګلدانونه او ترافیکي نښې شاملې دي. د پروژې په بشپړېدو سره به د کابل په ختیځو سیمو کې د ترافیکي ګڼې ګوڼې کچه راټیټه شي او له ختیځو ولایتونو د هېواد شمال ته د بار وړونکو او مسافر وړونکو موټرونو له پاره به اسانتیاوې رامنځته شي. پر دې پروژه ټولټال ۴۰۷ میلیونه افغانۍ لګښت کېږي، چې د کابل ښاروالۍ له بودیجې ورکول کېږي.

## له هنګرا څلورلارې تر قصبې پورې د غځېدلي سړک پروژه

له هنګرا څلور لارې تر قصبې پورې غځېدلی سړک ۱.۹ کیلومتره اوږدوالی او ۴۵ متره سور لري، چې چارې یې بشپړې شوې او ژر به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. دغه سړک هم د یو معیاري سړک ټولې برخې لري.

د پروژې په پایله کې د کابل ښار په لوېدیځو سیمو کې د ترافیکي ګڼې ګوڼې او پېښو کچه ښکته شوې او خلکو ته

د تګ راتګ پر مهال اسانتیاوې برابرې شوې دي. پر دې پروژه ټولټال ۱۷۷ میلیونه افغانۍ لګښـت راغلی دی. دا پروژه هم د کابل ښاروالۍ له لوري تمویلیږي.

## په ښاري نظم او ښکلا کې د سړکونو د پروژو رول

یادې پروژې په کابل ښـار کې یوازې د ترافیکي ستونزو د حل له پاره نه دي، بلکې د ښـاري پراختیا په برخه کې هم مهم رول لري. د معیاري سـړکونو شتون د ښار د ښکلا، نظم، د چاپېریال سـاتنې او د خلکو د ژوند د کیفیت لوړولو لامل کېږي. پلې لارې د ترافیکي پېښـو د مخنیوي او د خلکو د تګ راتګ په خوندیتوب کې مرسته کوي. ګلدانونه او شنې ساحې بیا د ښار ښـکلا زیاتوي او د هوا د پاکېدو لامل ګرځي.

## اقتصادي او ټولنیزې ګټې

په اقتصادي لحاظ د معیاري سړکونو جوړېدل د سوداګرۍ د پراختیا لـه پاره مهم دي. افغانسـتان چې یـو وارداتي او مصرفي هېواد دی، د سوداګریزو توکو د بار وړونکو موټرونو له پاره خوندي او معیاري سـړکونو ته ډېره اړتیا لري. دې پروژو سره د ټرانسپورټي وسـایلو سرعت زیاتېږي، د توکو لېږد په وخت کېږي، ترافیکي پېښې راکمېږي او خلکو ته د ژوند اسانتیاوې رامنځته کېږي. له ټولنیز پلوه، د خلکو وخت سپما کېږي، تګ راتګ اسـانه کېږي او د ښاریانو په ژوند کې د ارامۍ احساس رامنځته کېږي.

## پایله

د قمبر څلورلارې تر خیرخانې کوتل، د خیرخانې کوتل دویم لاټ، د هوایي ډګـر له څلور لارې تر ګمـرک او له هنګرا څلـورلارې تر قصبې پورې د کابل ښـاروالۍ څلور پروژې د کابل ښار د سړک جوړونې مهمې پروژې دي، چې د ریاست الـوزراء اقتصادي معاونیـت له منظورۍ وروسـته د کابل ښاروالۍ په هڅو عملي کېږي. دغه پروژې به نه یوازې د ترافیکي سـتونزو په حل کې مرسـته وکړي، بلکې د ښاري پراختیا، اقتصادي ودې او د خلکو د هوساینې له پاره به هم اوږدمهاله ګټې ولري.

د یادونې وړ ده چې یادې پروژې د ریاســت الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري پرانیستل شـوې وې، چې اوس یې د اقتصـادي معاونیت یو ګومارل شـوی تخنیکي ټیم څارنه کوي. دغه تخنیکي ټیم ته دنده ورکړل شـوې چې د پلان مطابق د پروژو تطبیق وارزوي، د کارېدونکو موادو له کیفیت څخه ډاډ ترلاسه کړي او راپور یې له هېوادوالو سره شریک کړي.



## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابـــل په شهزاده ســرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ؋۶۷,۳۰ | ؋۶۷,۳۵ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانۍ کلداري | ؋۲۳۰ | ؋۲۳۰ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ؋۰,۶۶ | ؋۰,۶۷ |
| ۱ | اروپايي یورو | ؋۷۹,۳۴ | ؋۷۹,۴۰ |
| ۱ | روسي روبل | ؋۰,۸۰ | ؋۰,۸۰ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ؋۷۵۸ | ؋۷۵۹ |
| ۱ | انګلیسي پوند | ؋۹۰,۸۱ | ؋۹۰,۸۸ |
| ۱ | سعودي ریال | ؋۱۷,۹۴ | ؋۱۷,۹۶ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۸,۳۳ | ؋۱۸,۳۴ |
| ۱ | چیني ین | ؋۹,۴۶ | ؋۹,۴۷ |

